پیشگام
۲۵ دسمبر ۲۰۲۲

## د ښځو غورځنګ او د طالبي فاشیزم ضد مبارزه

افغان ښځې د بیلابیلو ستمونو لاندې ژوند کوي. یو له دې ستمونو څخه د بنسټپالی ستم دی، چې کله د جهادي بنسټپالی او کله هم د طالب بنسټپالی په ډول پر میرمنو تپل کیږي. که څه هم امریکایي ـ ناټویي ښکیلاکګرو د نورو دروغجنو شعارونو تر څنګ د ښځو د حقونو په پلمه پر افغانستان برید وکړ، خو د اشغال او تیري پر مهال په ښکاره توګه ولیدل شول چې د ښکیلاک تر سیوري لاندې ښځو او ماشومانو د نورو په پرتله ډیر ستمونه، دردونه، رنځونه او ربړونه وګالل. له هغه ځایه چې د ښکیلاکګرو شعارونه ټل دروغ وي، نو بالاخره یې د نورو پرګنو تر څنګ په ځانګړي توګه میرمني د هغه خونړی بلا خولې ته ورواچولې چې په خپله همدې ښکیلاکګرو زیږولې، پاللي او روزلې ده.
اسلامي بنسټپالی ټل د ښځو په وړاندې جنوني او هیستریک مخالفت درلودلی دی. د جهادي بنسټپالانو د اسلامی دولت پر مهال او د امارتي بنسټپالی په دوو دورو کې د ښځو په وړاندې بلوسګرانه او ستمګرانه چلند په ښکاره توګه دا څرګندوي چې بنسټپالي که جهادي وي که امارتي او که داعشي، خپله بقا د ښځو او سکیولاریزم سره په دښمني کې ګوري، ځکه دوې پوهیږي که ښځو خپل حقونه وپیژندل نو د یوه ځواک په توګه هیڅکله هم بنسټپالی ته نه تسلیمیږي او په رادیکال بدلونونو کې خورا مهم نقش لوبولی شي.
د افغانستان اسلامي جمهوریت چې د جهادي بنسټپالانو او غرب میشتو تکنوکراتو ګډوله وه، د ښځو او میرمنو حقونو سره یې د ریا، فریب او کذب چلند درلود. دې اسلامي جمهوریت، ښځو ته د هغه انساني ځواک په سترګه نه کتل چې کولای شي د سترو سیاسي او ټولنیزو بدلونونو لامل شي، بلکه د «جنډر» د پروژو اسباب او د مجلسونو او کابینې د ډیکوریشن برخه یې ګرځولې وې. له هغه ځایه چې د اسلامي جمهوریت چارواکو د ښځو پر حقونو ریښتینی باور نه درلود، همدا و چې د مطلق اکثرو چارواکو میرمني په کورونو لکه ښاروي تړل شوې وې او په سیاسي او ټولنیز ژوند کې یې څرک نه لګیده. د تاریخ مضحکه او ملنډه خو دا وه چې د مارچ په اتمه به هغه جهادیانو د ښځو په منځ کې د ښځو له حقونو او مبارزې دفاع کوله چې خپلې ښځې، لوڼي او د کورنی میرمني یې په شلو کلونو کې چا ونه لیدلې.
بهرني ستمګرانو چې په ښکاره ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت او په پټه د افغانستان اسلامي امارت دفاع او ننګه کوله، له ښځو سره دوه ګونی چلند درلود: دې ښکیلاکګرو له یوې خوا پر کلیوالو ښځو بمباري کوله، زیارکښه او بیوزله ښځې یې وژلې؛ ژوند، کور او ناڅیزه هستي یې ورته ویجاړوله، هغوې یې ربړول، ځورول او د نابودی ګړنګ ته لیږل؛ خو له بلې خوا یې ښکیلاک پلوه ښځې سختې نازولې. دې ښځو اینجوګانې درلودې، مدني فعالیتونه یې کول، تحقیقي مراکز یې درلودل، د پارلمان غړې وې، پروژې یې اخیستې، د کنفرانسونو ویناوالې وې او له مافیایي او

استخباراتي ډلو سره يي اړيکي درلودې. دا ښکيلاک پلوه ميرمني د بيوزلو ښځو په وينو مستي، په دې کنفرانس او هغه کنفرانس، په دې سفارت او هغه سفارت کي د ښکيلاکګرو نغمو ته په ټول اخلاص نڅيدلي.

په داسي حال کي چي د ښکيلاکي او ارتجاعي جګړې اصلي قربانيان ميرمني او ماشومان ول، خو په تيرو شلو کلونو کي له بده مرغه د بيلابيلو لاملونو له امله د ښځو يو واقعي او رښتيني غورځنګ رامنځته نه شو. که د ښکيلاکګرو تر ځنګ د لاسپوڅي دولت ستم او ابزاري چلند د ښځو د اصلي ونډې او نقش په پيکه کولو کي مهم و، د دې تر څنګ د اکثريت مطلقو روښن اندو ښځو بازاري سياست يو له هغه مهمو لاملونو ګڼل کيږي چي د دې غورځنګ د جوړيدو مخه يي ډب کړې وه. هغو ښځو چي فرصت درلود چي د ميرمنو يو واقعي آزادي بخښونکی غورځنګ رامنځته کړي يا د سياسي مافيا مزدوراني شوې، يا د جهاديانو غوړه مالاني او يا د طالبانو لابي ګراني او يا هم د ښکيلاکګرو چوپړياني. دا هغه لوی خيانت دی چي اينجويي، مدني، سياسي، پارلماني او... ښځو د افغانستان ستمځپلو ميرمنو سره وکړ.

که چيري همدې ښځو له ښکيلاک، بنسټپالي او مافيايي ککړتيا پاکه مبارزه کړې وای، مليتي او ژبنی تعصب يي شاته پريښوی وای او پر پيوستون يي کار کړی وای، نه ښکيلاکګرو کولای شول پر هغوی معاملي وکړي، نه اسلامي جمهوريت هغوې سره ابزاري چلند کولی شو او نه جهادي او طالبي فاشيستانو د هغوې پر ژوند او برخليک لوبي کولای شوې.

له بده مرغه د تيرو شلو کلونو د خيانتونو له امله افغان ښځي د طالبي فاشيزم د ستم په وړاندې يوازې پاتي شوي دي. د بازاري سياست ټولو ښځينه لوبغاړو دوې د ستم تر لاندې يوازې پريښودل. نن د کابل کنګل شوې فضا، د همدې ربړيدلو، غير پروژه‌ای او غير سفارتي ميرمنو په ګامونو ماتيږي. نن د کابل خفقان يوازې او يوازې د همدې باتورو، پرتمينو او تاريخ جوړوونکو ميرمنو په آواز لړزيږي. که دا ګامونه نن لږ او که دا آوازونه نن کم دي، سبا هرومرو زياتيږي. د ښځو غورځنګ، هغه وخت پياوړی کيږي چي له ښکيلاکګرو په سوالګرۍ ککړ نه شي، جهادي مافيا ته په ګونډو نشي او د طالبي فاشيزم تر څنګ جهادي جنايتکاران د خپلو دښمنانو په توګه ورتي.

د افغانستان زيارکښه، بيوزله او پياوړې ميرمني بايد په ياد ولري چي نور ګوډاګی او جهادي نانځکي په خپلو کتارونو کي پرينږدي، ځانونه منسجم کړي، پر پيوستون کار وکړي او د يو دموکراتيک او سکيولار افغانستان لپاره ګامونه لا ګړندي کړي. ميرمني د ستم، بلوس او جنايت څخه د ژغورني لپاره له مبارزې پرته بله لاره نه لري.

**سيند**

**ناست کنګل**

**يوه ځانګه**

**د ځنګل په ترورمه کي**

**د لمر په لور**

**فرياد کوي.**

احمد شاملو